PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN

اروپايي ټولنه د افغانستان دولت د پرمختګ ځخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي

کابل- د 2015 کال د سپتمبر 5

نن په کابل کي د لوړپوړو چارواکو په غونډه (SOM) کي نړيوالي ټولني د افغانستان د خلکو ځخه خپل ملاتړ تجديد کړ. دغه غونډه د ټوکيو د دوه اړخيزي حساب ورکوني د چوکاټ د تجديد په لاره کي چې د نړيوالي ټولني او افغانستان ترمنځ د همکارئ لار نقشه دي، د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت او نړيوالي ټولني د هڅو ځخه ستاينه وکړه.

د دغي غونډي نه وروسته په افغانستان کي د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي فرانز مايکل ميلبن وويل: " زه د اروپايي ټولني، د ناروي شاهي هيواد او د سويس کنفدريشن ځخه په استازيتوب د افغانستان دولت ځخه د دغي غونډي د کوربتوب په خاطر مننه کووم. دغه غونډه د افغانستان د پر ځان بسيايني په موخه د افغان دولت هلو ځلو ځخه ستاينه وکړه. دغه موضوع زمونږ د مرستو دوام لپاره هم اړين دي. همدارنګه دغه غونډه افغانستان سره د اروپايي ټولني او نړيوالي ټولني روان ملګرتوب او ژمنه په ډاګه کړ. "

د افغانستان خلکو سره د اروپايي ټولني د اوږدمهالو ژمنو باندي د ټينګار په موخه اروپايي ټولنه به د وزيرانو په کچه راتلونکي غونډه په بروکسل کي د افغانستان دولت سره په ګده کوربه توب وکړي.

بٱاغلي ميلبن وويل: " اوس د دي وخت را رسيدلي دي چي افغان دولت په بيړه د خبرو ځخه عمل ته ګام پورته کړي او د افغانستان خلکو ته وښايي چي دولت د هغو اصلاحاتو د پلي کولو په لاره کي ژمن دي چي د افغانستان د خلکو لپاره ګته لري. مونږ افغان دولت هڅوو ترڅو د پاتي واليانو او معينانو د ټاکنې په ګډون د دولت جوړښت بشپړ کړي. دا چي د افغانستان دولت وکولائ شي هغه اصلاحات چي د افغانانو په ګته وي پلئ کړي د دولت د پياوړتيا لپاره اړين دي."

لاډيرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولني پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمپره: 548 173 700 (0) 93+
بريښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

د اروپايي ټولني د ځانګړي استازي
د رسنيو او اړيکو سلاکار
کيل اندرسن
ټليفوني شمپره: 449 701 794 (0) 93+
ايميل:Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu